Deutsches Rotes Kreuz

SUCHDIENST

د کورنۍ د بېرته یوځای کېدو په تعقیب لاربښووني

# د ډېټا د خوندیتوب په اړه معلومات

**موندل. وصل کېدل. بېرته یوځای کېدل**
د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت له هغو خلکو سره مرسته کوي چې د وسله والو نښتو، طبیعي پېښو، تېښتې، بې ځایه کېدو یا مهاجرت له امله له خپلو کورنیو څخه بېل شوي دي. دغه اداره مرسته کوي ترڅو له کورنۍ څخه بېل شوي غړي ومومي، او له خپلې کورنۍ سره یې بېرته په اړیکه کې کړي او بېرته یې له خپلو کورنیو سره یوځای کړي.

**موږ د خپل کار لپاره څه ډول ډېټا ته اړتیا لرو؟**
د دې لپاره چې کوم کس د کورنۍ له نورو غړو سره یو ځای شي، د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت دومره معلوماتو ته اړتیا لري چې امکان یې وي. دغه معلومات له ټولو معمولي معلوماتو څخه مهم دی لکه نوم، د زیږېدنې نېټه، د اصلي استوګنې په اړه معلومات او د هغو کسانو د اړیکو معلومات چې په بېرته یوځای کېدنه کې دخیل دي. په ځینو مواردو کې ښایي شخصي معلومات هم د طرز العمل لپاره این وي، د بېلګې په توګه، د خپلوۍ د ثبیت په موخه د پلارتوب د آزمویني پایله او یا هم د کورنۍ د کوم غړي د صحي وضعیت په اړه معلومات ترڅو د یوه مشخص ستونزمن حالت موارد تصدیق شي.

دغه معلومات ټول شخصي ډېټا ده چې موږ ورته اړتیا لرو ترڅو ستاسو په ګټه اقدامات ترسره کړو.

**موږ د کوم مقصد لپاره ډېټا پروسېس کوو؟**
د موندنې خدمت شخصي ډېټا پروسېس کوي ترڅو:

1. د ورکو کسانو پلټنه وکړي
2. سرنوشت یې څرګند شي او
3. له خپلو کورنیو سره بېرته یوځای شي

**آیا ډېټا به درېیم اړخ ته ولیږدول شي؟**
موږ شخصي معلومات په بشپړ محرمانه ډول کاروو. زموږ د کار د یوې برخې په توګه، ښایي د دې اړتیا وي چې موږ ډېټا له نورو اړخونو سره هم شریکه کړو، د بېلګې په توګه

- د موندنې د خدماتو له شبکې سره (د جرمني د سرې میاشتې د موندنې د خدمت او د سرې میاشتنې د نړیوالې کمېټې ټولنې او په بهرنیو هېوادو کې د سرې میاشتې دفترونه او د سره خوځښت ټولنې) پکې شاملې دي.
- باصلاحیته ملي مراجع (لکه د مهاجرت اړوند مراجع)
- له هېواده د باندې د جرمني استازولۍ (لکه سفارتونه او قونسلګرۍ)

دا کېدای شي، د بېلګې په توګه، د ویزې د اوسني پروسیجر په تړاو د معلوماتو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي ترڅو د اړتیا وړ هغه مرستې مشخصې شي چې یو څوک ورته په دې مورد کې اړتیا لري. ډېټا به نورو اړخونو ته یوازې په هغه صورت کې لیږدول کیږي چې که چیرې د موندنې د خدماتو د اړونده فعالیتونو په ترسره کولو کې اړتیا ورته ولیدل شي.

**موږ ډېټا د څومره مودې لپاره ذخیره کوو؟**
هغه ډېټا چې تاسو یې موږ ته راسپارئ د هومره مودې لپاره ساتل کیږي چې د ډېټا د پروسېس اړوند د پورتنیو مقاصدو د ترسره کولو لپاره یې اړتیا وي.

**کوم قوانین د ډېټا په تنظیم کې پلي کیږي؟**
هر اړوند کس د ډېټا د خوندیتوب حق لري. د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت کارونه د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت د ډېټا د خوندیتوب قانون (DRK-SDDSG) د حکومنو له مخې تنظیمیږي. سربېره پر دې، موږ ستاسو له ډېټا څخه د استفادې پر مهال د عمومي معلوماتو د خوندیتوب د مقرراتو (DS-GVO) د حکمونو او د جرمني د فدرالي معلوماتو د خوندیتوب قانون (BDGS) پر وړاندې مسئول یو.

که چیرې زموږ د کار په جریان کې دې ته اړتیا پیدا شي چې ستاسو ډېټا د موندنې د خدماتو له شبکې سره شریکه کړو، نو ښکېل اړخونه به د ډېټا د خوندیتوب له عمومي قوانینو څخه پیروي کوي. موږ غواړو تاسو ته ډاډ درکړو چې ستاسو معلومات به په هره بیه چې وي، که دلته یا له هیواده د باندې وي، زموږ د شبکې د همکارانو له خوا په کافي اندازه خوندي ساتل کیږي.

Deutsches Rotes Kreuz

SUCHDIENST

**تاسو د خپلو شخصي معلوماتو د خوندي ساتلو په تړاو کوم حقونه لرئ؟**
تاسو د دې حق لرئ چې خپلو شخصي معلوماتو ته چې له موږ سره ذخیره دي په وړیا توګه لاسرسی ولرئ. سربېره پر دې، تاسو همدارنګه د دې حق لرئ چې له موږ سره په ذخیره شوو ناسمو معلوماتو کې سمون راولئ. که تاسو نور نه غواړئ چې شخصي معلومات مو له موږ سره ذخیره وي، تاسو کولای شئ موږ ته خبر راکړئ. موږ به بیا ستاسو د معلوماتو د تورلو یا بندولو په تړاو اقدام وکړو.

د جرمني د سرې میاشتې د موندنې خدمت ته چې کوم توافق لیک سپارل شوی کېدای شي هر وخت په بشپړ یا نیمګړي ډول لغوه شي.

**تاسو له کوم (مسئول اورګان) سره اړیکه نیولی شئ؟**
که چېرې تاسو د خپلې ډېټا د پروسېس کولو یا د معلوماتو د اصلاح کولو، تورلو یا بندولو په تړاو د خپلو حقونو د پلي کولو په اړه پوښتنې لرئ، نو کولای شئ د جرمني د سرې میاشتې د موندنې د خدمتونو له مرکز سره چې د خپلې کورنۍ د بیا یو ځای کېدو د غوښتنې پر مهال مو تماس ورسره نیولی و، په اړیکه کې شئ

| |
|---|
| <br><br><br>ټاپه یا نوم، د ملاتړ د مرکز پته او د تلفون شمېره |

که چېرې تاسو نه پوهېږئ چې له چا سره اړیکه ونیسئ، تاسو کولای شئ د جرمني د سرې میاشتې د ځارنې خدمت له مرکزي دفتر سره تماس ونیسئ:

Deutsches Rotes Kreuz
Generalsekretariat
Team 22/Suchdienst-Leitstelle
Carstennstraße 58
12205 Berlin
تلفون: 170- 04 54 8 / 30(0) 49+
برېښنالیک: datenschutz-suchdienst@drk.de

تاسو کولی شئ چې د ځارنې خدمت د ډېټا مسؤل سره اړیکه ونیسئ، هغې ته په لاندې پته برېښنالیک استولی شئ.